# لوګر

ماهنامه

میاشتنۍ خپرونه

monthly Logar





شنبه د۱۳۹۸ کال د غبرګولي د میاشتې څلورمه، د ۲۰۱۹ عیسوي کال د مې پنځه ویشتمه ۴ پرله پسې ګڼه (۱۰۳) لومړی کال، دویمه ګڼه


## په لوګر کې دمطبوعاتو نړیواله ورځ ولمانځل شوه

دمطبوعاتو نړیواله ورځ د غويي په **۲۵** مه د ولایت په مقام کې ولمانځل شوه، چې پکې دلوګروالي الحاج محمد انورخان اسحاقزي ، مرستیال والي تورن جنرال محمدنبي احمدزي، د لوګر دخپلواکو ژورنالستانو دټولنې رییس نورالله ستانکزي، داطلاعاتو آمر امین الله صفا ، دملي امنیت رییس برید جنرال امیرجان ناصري، امنیه قومندان سمونوال رحم خدا مخلص، دڅلورمې پلې لوا قومندان ډګرمن منیراحمد او د لوګر ژورنالستانو برخه اخیستې وه.

په پیل کې د لوګر دخپلواکو ژورنالستانو د ټولنې مشر نورالله ستانکزي دلوګرولایت د ژورنالستانو پر امنیتي او اقتصادي ستونزو خبرې وکړې، له دولتي مسؤلینو غوښتونکی شو، چې د ژورنالستانو ستونزو ته په رسیدو له هر ډول همکاریو او مرستو ډډه ونه کړي.

ستانکزي وویل؛ همدا مطبوعات دي، چې دولت له ملت او ملت له دولت سره نښلوي، دخلکو ستونزې تر دولتي چارواکو او د دولت کړنې او لاسته راوړنې ولس ته رسوي یانې دواړه لوري خبره وي. ورپسې دملي امنیت رییس هم خبرې وکړې. ویې ویل، چې په لوګر ولایت کې ژورنالستان دښې همغږۍ ترڅنګ په خپلو منځو کې چې یوالی او اتحاد لري دستاینلو وړ دي.

ناصري دخبریالانو په لاسته راوړنو هم خبرې وکړې زیاته یې کړه، چې دوی په دې سختو شرایطو کې خپلې دندې پرمخ وړي.

ناصري وویل، خبریالان هغه مسؤلیت چې په خپلو دندو کې لري، خلکو او دولتي چاراوکو ته دمنلو وړ په دې دي، چې په وخت سره د یاد ولایت خبري انځور درسنیو له لارې خپاره کړي اویا خپره وي یې، د ولس خبراوي لپاره یو لوی خدمت ده، چې دوی یې ترسره کوي.

ملي امنیت رییس برید جنرال امیرجان ناصري د ژورنالستانو دامنیت دخوندیتوب د همکاریو ژمنه هم وکړه. بیا د لوګرامنیه قومندان سمونوال رحم خدا مخلص په خپلو خبرو کې وویل، چې ژورنالستان د دولت په لاسته راوړنو خپلې هلې ځلې ترسره کړي، چې د لوګر ټولو خبریالانو هلو ځلو او قربانیو ته دقدر په سترګه ګورو او ورته دنورو بریاو هیله کوو.

همدا راز امنیه قومندان دژورنالستانو دخوندیتوب په اړه دخپلو مرستو او همکاریو ډاډ هم ورکړ.

لوګر والي الحاج محمد انورخان اسحاقزي د مطبوعاتو نړیوالې ورځې په مناسبت ټولو خبریالانو ته ددغې ورځې مبارکي ورکړه، زیاته یې کړه، چې دخبریالانو مسؤلیت دهیواد په وړاندې دادی، چې دملي یوالي او سولې په راوستو کې له نورو وګړو نه ډیره ونډه په دې ولري، چې دهیواد ملي ګټو لپاره کار وکړي.



والي وویل، چې خبریالان دټولنې سترګې او غوږونه دي، دوی کولای شي، چې دټولنې واقعیتونه او دردونه تر دولتي مسؤلینو پورې ورسوي، تر څو دولتي مسؤلین وکولای شي، د ولسونو په ټپونو دملهم پټۍ کیږدي. دپروګرام په پای کې دلوګرولایت له خوا درسنیو استازي په دربیمو درجو ستاینلیکونو او دلوګر داطلاعاتو او فرهنګ ریاست له لوري په یو لړ سوغاتونو باندې ونازول شول.

**امیني**

## لوګر کې ولسي وګړو پنځه جریبه ځمکه ښوونځیو لپاره ډالۍ کړه

دغويي لسمه: د لوګر د ازرې ولسوالۍ له **۵** ښوونځیو سره د پوهنې دریېوتنو کارکوونکو او دوه قومي مشرانو پنځه جریبه ځمکه مرسته وکړه .

د پوهنې ریاست ویاند محمد شاه پور عرب وویل، چې یاده مرسته د دارالمعلمین له څانګې، درکي خیلو ، رضا خیلو ، چوترې، عیسی خان او د منګلو له ښوونځیو سره شوې .

عرب وویل، دښوونځیو سره دځمکو مرسته د پوهنې دریېوتنو کارکوونکو عبدالجبار، موسی خان او خان محمد او دغه راز دوو قومي مشرانو رشید خان او عبدالستار ترسره کړي .

عرب زیاته کړه، چې په مرسته شوځمکو به د ولسي تړون له لارې د اقراء پروګرام په مالي مرسته ودانۍ جوړې شي، چې عملي چارې به یې ډېر ژر پیل شي .



د لوګر د پوهنې رییس عبدالوکیل کلیوال د یادو ځمکو د قبالو اخېستلو پر مهال له ښوونځیو سره د ازرې ولسوالۍ د اوسېدونکو د ځمکو مرستې ستایلي دي.

کلیوال ویلي، چې د هېواد په کچه لوګر هغه لومړنی ولایت دی، چې اوسېدونکو یې د ښوونځیو جوړولو لپاره ډېرې ځمکې پوهنې ته وقف کړي دي.

دعرب په وینا ؛ د لوګر د پوهنې ریاست او خلکو تر منځ ښوونځیو ته د ځمکو پیدا کولو په موخه خبرې رواني دي، چې په نږدې راتلونکي کې به ځینو نورو ښوونځیو ته هم د خلکو له لوري ځمکې ورکړل شي.

## ازهفته کتاب وکتابخوانی درلوګر تجلیل بعمل آمد

ازهفته کتاب وکتابخوانی درولایت لوگربه تاریخ 29 ثور ازسوی مدیریت عمومی کتابخانه عامه ریاست اطلاعات وفرهنگ تجلیل بعمل آمد.

این پروگرام که درکتابخانه عامه ریاست اطلاعات وفرهنگ برگزارشده بود درآن پوهنیارعبدالناصرستانکزی رییس پوهنتون، جمعه الدین درانی آمرفرهنگ وگرځندوی، امین الله صفا آمراطلاعات، محمد کاظم ابراهیم زاده مدیرعمومی امورجوانان، عبدالفتاح مفلح مسئول مرکزآموزشی لنکن، محصلین وبرخی ازجوانان اشتراک ورزیده بودند.

انجنیرمحمد کاظم ابراهیم زاده مدیرعمومی امورجوانان نخست صحبت نمود وافزود که کتاب یگانه دوست ومونس انسان است که همه انسانان را بسوی فلاح ونیک بختی سوق میدهد ، وی ازتمام اشتراک کنندگان پروگرام خواست که درنهادینه ساختن فرهنگ مطالعه وعلاقه مندی به کتاب تلاش نمایند. پوهنیارعبدالناصرستانکزی رییس پوهنتون روی اهمیت کتاب ومطالعه سخنان همه جانبه به شاملین مجلس ارایه نمود وعلاوه کرد که راه نجات همه بشردر رهنمای کامل آنها (کتاب) نهفته است، آقای ستانکزی ازهمه علاقمندان علم وادب خواست که به مراکزعلمی وکتابخانه ها جهت مطالعه وکسب معلومات مراجعه نمایند.

عبدالاحمد فیضی مدیرکتابخانه عامه ولایت لوگرمیگوید که درکتابخانه عامه بیش ازدوازده هزارجلد کتب مختلف النوع وجود دارد ،وی علاوه کرد که علاقه مندان کتاب نسبت به سال گذشته افزایش یافته است.

همچنان درجریان پروگرام رحیم الله سمون ترکی عضونهاد سبز وبصیره ستانکزی مدیرکتابخانه نیز درمورد کتاب ونقش آن درجوامع وساختارهای سیاسی، اقتصادی، دینی وفرهنگی سخنان ارزشمندایراد نمودند ودراخیربرنامه ازسوی مدیریت کتابخانه عامه تحایف به برخی اشتراک کنندگان پروگرام توزیع شد.



**محمد زاهد سلطانی**

## بیست وپنج جلدکتاب به کتابخانه عامه لوگراهداء شد

انجمن اجتماعی وفرهنگی جوانان لوگربه تاریخ 9 ثور، بیست وپنج جلدکتاب مختلف النوع را به کتابخانه عامه ریاست اطلاعات وفرهنگ اهداء نمود. الیاس نظری مسوول کتابخانه انجمن اجتماعی وفرهنگی جوانان لوگرهدف ازاهدای این کتب را تقویت فرهنگ مطالعه وتشویق جوانان به مطالعه عنوان کرد ، آقای نظری گفت: انجمن اجتماعی وفرهنگی جوانان لوگرطی راه اندازی کمپاین جمع آوری کتاب وتقویت فرهنگ مطالعه، توانسته اند کتب مختلف را جمع آوری نمایند که بیست وپنج جلد آن به کتابخانه عامه لوگر، بیست وپنج جلد به کتابخانه پوهنتون وچهل جلد کتاب به کتابخانه ولسوالی محمدآغه اهداء شده است.



عبدالاحمد فیضی مدیرعمومی کتابخانه عامه لوگرضمن اظهارسپاس وقدردانی ازانجمن یاد شده میگوید که درکتابخانه عامه، کتابخانه ولسوالی برکی برک ومحمدآغه بیش ازدوازده هزارجلد کتب مختلف النوع وجود دارد که همه روزه دراوقات رسمی بروی مراجعین بازمیباشد ، وی علاوه کرد که نسبت به سال گذشته مراجعین وعلاقه مندان کتاب بیشترشده است. مدیرکتابخانه عامه ازتجاران ودوستداران کتاب خواست که برای غنامندی بیشترکتابخانه ها توجه نمایند.

**محمد زاهد سلطانی**

## ماه رمضان و افزایش بهای مواد غذایی درلوگر

باشندگان ولایت لوگر می‌گویند ، بهای مواد خوراکی در مقایسه با روزهای پیش از ماه رمضان از 10 تا 20 درصد ، افزایش یافته است. به گفته باشندگان شهرپل علم، در بهای مواد اولیه از 100 تا 200 افغانی افزایش آمده است .

عبدالله یکتن ازباشندگان مرکز ولایت لوگربه آژانس باخترگفت که قیمت مواد خوراکی نسبت به روزهای قبل ازرمضان افزایش یافته است واکثرمردم بیچاره وفقیربرای خرید مواد خوراکی با مشکلات زیادی مواجه هستند.

ازسوی دیگرتوریالی میگوید که درایام رمضان باید قیمت های مواد خوارکی تنزیل یابد و شهرداری نرخ ها راکنترول نماید ، همچنان بعضی مواد خوراکی تاریخ آن سپری شده میباشد که صحت عامه آنرا کنترول نماید ، وی علت افزایش مواد خوراکی را عدم کنترول نرخ ها دربازار، افزایش تقاضای مشتریان وبی عدالتی فروشندگان عنوان نمود.

دکانداران بلندرفتن بهای مواد خوراکی توسط تاجران را از دلایل عمده افزایش قیمت مواد خوراکی می‌دانند ،یکتن ازدوکانداران درشهرپل علم میگوید که بالارفتن نرخ دالر در برابر افغانی و هجوم مردم به بازار در ماه رمضان از دلایل عمده بلندرفتن بهای مواد خوراکی در بازاراست . با آنکه نرخ مواد خوراکی در بازار جهانی ثابت است و تنها در افغانستان بهای مواد اولیه همه وقته درماه رمضان دراکثرولایات افزایش می یابد واکثرفامیل ها را با مشکلات زیادی مواجه مینماید ونهادهای مربوطه هیچ احساس مسوولیت دربرابرحل این مشکل نمی نمایند. **سلطانی**

### با شانزده فامیل متضررین جنگ ها ...

که در اثر جنگ های اخیر در ولسوالی برکی برک وچرخ متضرر گردیده بودند توزیع شد.

الحاج محمد انور خان (اسحاقزی) والی لوگر ضمن اظهار قدردانی ازموسسه یاد شده مساعدت با متضررین را وجیبه دولت خوانده علاوه نمود که سعی خواهندکرد تا سایر موسسات ونهاد های کمک رسانی را حاضر به مساعدت با متضررین نماید. **عدیل**

## د برکي برک اوسیدونکو یو ښوونځی جوړ کړ

د غويي ۲۹مه: د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ د خلکو په همکارۍ یو ښوونځی جوړ شو.



د لوګر د پوهنې ریاست ویاند شاه پور عرب لوګرجریدې خبریال ته وویل: د برکي برک ولسوالۍ دقلعه کهنه د هلکانو او نجونو د نهه ټولګیز ښوونځي ودانۍ د سیمې د خلکو په مرسته جوړه شوه. ده زیاته کړه: دغه لیسه په یوه وخت کې د۴۵۰ تنو زده کوونکو ظرفیت لري چې څه د پاسه ۸۰۰ هلکان او نجونې پکې په زده کړه بوخت دي. د لوګر ولایت د پوهنې رییس عبدالوکیل کلیوال د سیمې د خلکو دغه کار وستایه او څرګنده یې کړه: دخلکو په همکارۍ موږ کولای شو په هېواد کې د پوهنې نظام زیات پیاوړی کړو. دیادونې وړ ده، چې په لوګر ولایت کې له دې مخکې هم خلکو د ښوونځیو د جوړولو لپاره مرستې کړې دي.


د امتیاز خاوند : د اطلاعاتواوفرهنګ ریاست

لوګر Logar

یادونه : لوګرمیاشتنۍ خپرونه دسرلیکنې پرته؛ دلیکوالانو دلیکنو ننګه نه کوي اومسؤلیت یې دلیکوال پرغاړه ده .

مسؤل مدیر : شیرمحمد «امیني» ستانکزی ۰۷۰۵۱۰۶۶۲۸

کتونکې ډله : امین الله «صفا» او محمد زاهد «سلطاني»

خبریال : محمد موسی «عدیل»

ډیزاینر : امینی «ستانکزی»

فیسبوک پاڼې: www.facebook.com/ دلوګرداطلاعاتواوفرهنګ ریاست

www.facebook.com / لوګرمیاشتنی

که چیرې لیکنې لرئ چې په لوګرمیاشتنۍ کې خپرې شي، نو کولی شي چې په لاندې پته یې را واستوئ.

داړیکې شمیره : ۰۷۴۴۴۲۶۴۲۸

دبرښنالیک پته : Shir.stanikzai2@gmail.com

چاپ ځای : آزادی مطبعه